# او هغوی ته يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ

د يحيى بن عماره المزني څخه روايت دی وايي چې: عمرو بن أبی حسن مې ولیده چې له عبد الله بن زيد څخه يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د اوبو يو کنډول راوغوښت او هغوی ته يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ، نو د لوښي څخه يې په لاسونو اوبو را واړولې، نو درې ځلې يې خپل لاسونه ووينځل، بیا يې لاس په کنډول کې ښکته کړ، نو درې ځلې يې خوله ووینځله، او درې ځلې يې پوزې ته اوبه واچولې او بیا يې سوڼ کړه، بیا يې پکې لاس ښکته کړ نو خپل مخ يې درې ځلې ووينځه، بیا يې دوه ځلې لاسونه تر څنګلو پورې ووینځل، بیا يې لاس ورکوز کړ او خپل سر يې مسح کړ، مخته يې داړه لاسونه راکش کړل او بیا يې شاته بوتلل، بیا يې دواړه پښې تر ښنګرو ووينځلې.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

عبد الله بن زيد رضي الله عنه په فزيکي ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس طريقه بيان کړه. نو د اوبو يو وړوکی لوښی يې راوغوښت، د لاسو په وينځلو يې پيل وکړ، بیا يې لوښی راکوز کړ او اوبه يې ترې راتوی کړې او لاسونه يې د لوښی نه د باندې درې ځلې ووينځل. بیا يې په لوښي کې لاس ښکته کړ، نو درې لپې يې ترې راړکې کړې او د هرې لپې سره به يې خوله او پوزه وينځله او بېرته به يې سوڼ کوله، بیا يې د لوښي څخه لپه راډکه کړه او خپل مخ يې پرې درې ځلې ووینځه. بیا يې ترې لپه راډکه کړه او دواړه لاسونه يې تر څنګلو پورې دوه دوه ځلې ووینځل. بیا يې لوښي ته لاس کوز کړ (لوند يې کړ) او په دواړو لاسونو سره يې سر مسح کړ، داسې چې د سر له پیل څخه يې مسح پیل کړه تر دې چې شاته ورسیده یعنې د ورمېږ تر پورته برخې پورې، بیا يې بېرته راواپس کړل تر دې چې هغه ځای ته راورسېده چې مسح يې ترې پیل کړې وه. بیا يې دواړه پښې له ښنګرو سره ووینځلې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3444

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee